اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الْعَدُوِّ، وَشَمَاتَةِ الْأَعْدَاءِ». (يا الله! زه پر تا له زياتو قرضونو، د دښمن له غلبې او د دښمنانو له خوشحالۍ پناه نيسم)

له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به په دې الفاظو سره دعا کوله: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الْعَدُوِّ، وَشَمَاتَةِ الْأَعْدَاءِ». (يا الله! زه پر تا له زياتو قرضونو، د دښمن له غلبې او د دښمنانو له خوشحالۍ پناه نيسم).

[صحيح دی] [النسائي او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له لاندې شيانو څخه پناه غوښتې ده: لومړی: (اللهم إني أعوذ) (اې الله زه پناه غواړم) (بك) پر تا باندې، او ستا پرته يې پر بل چا نه غواړم (من غلبة الدين) د قرض له غلبې څخه او دا چې راباندې زيات شي، د خفګان او کړاو لامل شي، او ستانه يې د ادا کولو لپاره مرسته غواړم. دويم: (وغلبة العدو) او د دښمن له برلاسي کېدو، د هغه له قهر او تسلط څخه پر تا پناه نيسم، او ستا څخه يې د ضرر د مخنيوي سوال کوم او دا چې پرې برلاسی شم. دريم: (وشماتة الأعداء) او د دښمن له خوشحاليو څخه چې کله مسلمانانو ته کوم مصيبت او تاوان ورسېږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5489